# د صلحې نړیواله ورځ

سيدعثمان سنجش




**21** ستمبر د ملګرو ملتونو له خوا په ټوله نړۍ کښې د سولې د نړیوالې ورځې په نوم نومول شوې ده، دغه ورځ په ټوله نړۍ کښې د سولې د نړیوالې ورځې په نوم په بېلا بېلو ډولونو نمانځل کېږي .

د خوشحالۍ ځائے دے چې د روان کال (د زمرې په **30** مه) په افغانستان کښې د ویښ ځوانانو ټولنې په خپله یوه خبري ناسته کښې په **21** ستمبر د هېواد په بېلا بېلو ولایتونو او په ځینو بهرنیو هېوادونو کښې د سولییز لاریون walk د ترسره کولو خبر ورکړو او د افغانستان د خلقو د پراخ ګډون سره یو ځائے د سولې دغه ورځ په شاندارو مراسمو ونمانځله او د ملګرو ملتونو په نوم ئې پریکړه لیک خور کړو. په دې پریکړه لیک کښې غوښتنه شوې چې په یو غږ د سولې په نوم شخړې، دښمنۍ او افغان وژنې دې ختم کړے شي او **2010** کال دې د باچا خان په نوم ونومول شي

په دې ورځ په نبدرلبند کښې د افغاني کلتوري ټولنې هم د یو اعلامیې په صادرولو سره د دې لاریون ملاتړ وکړو او د نړیوالې سولې په ورځ په افغانستان کښې د افغاني ځوانانو د سولییز لاریون هرکلے ئې وکړو.

دغه راز د ستمبر **21** د صلحې د نړیوالې ورځې په ویاړ په برطانیه او اروپا کښې پشتون پیس فورم تر سرپرستې لاندې په پاکستان او افغانستان کښې د جاري دهشت پسندۍ په خلاف او د سولې په حق کښې په لندن کښې د برطانیې د پارلیمنټ مخې ته احتجاجي لاریون وویستل شو. د لاریون برخه والو په لاسونو کښې د باچا خان تصویرونو سره سره د امن په حق او د دهشت پسندۍ خلاف لیکلي شوي نعرې موجودې وې. په دې کښې لیکلي شوي وو چې (( stop the war colleation Bartania)) په دې لاریون کښې د برطانیه د نمائندګانو نه علاوه په برطانیه کښې د مختلفو هېوادونو زده کوونکو برخه اخستې وه. لاریون کوونکو د اقوام متحده ، برطانیه او بین المللي ټولنې څخه غوښتنه وکړه چې هغوی دې په افغانستان ، پښتونخوا صوبه او فاټا کښې د امن او استحکام دپاره د پښتنو سیاسي قیادت په اعتماد کښې واخلي او هغوی ته دې د دې اختیار ورکړے شي چې د عملي ګام تر سره کولو لپاره حکمت عملي جوړه کړي. هغوی غوښتنه و کړه چې **2010** کال دې د باچا خان په نوم ونومول شي

دا ځکه چې باچا خان د ډیورنډ دواړه خواوو پښتنو ته د قبول وړ شخصیت دے او د دې فلسفې په عملي کولو سره نۀ دا چې امن او استحکام راتلے شي بلکې د پولې دواړه خواو کښې امن تامین کېدے هم شي. دغه لاریون د پارلیمنټ څخه بهر دوه ګېنټې جاري وۀ او لاریون کوونکو ته خطاب کېدۀ. د لاریون کوونکو لخوا د برطانیې حکومت ته یو قرارداد هم وسپارل شو. په دې لاریون کښې ناصر احمد، ضیاء الرحمن، سنګین خان او نورو برخه اخستې وه.

کۀ چرې د دې قضیې تاریخي پس منظر ته لاړ شو نو له تېرو څو لسیزو را په دې خوا افغانان په بېلا بېلو ډولونو د جنګ په لُومه کښې ګېر دي او د هم دې جګړې له امله د نړۍ د پرمختګ له کاروان څخه وروستو پاتې دي او په نړیواله کچه د افغانانو په حقله غلط سوچ ته وده ورکړې شوې ده او دوی ئې د ترهګر او جګړپالو په نوم پېژندلي دي مګر حقیقت دادے چې پښتانۀ د خدائے په فضل سره ډېر ښۀ مسلمانان دي او په دوي کښې هر نوع تحمل موجود دے، د کمیونزم په خلاف د مغرب د جنګ په دوران کښې چې کوم مذهبي تندوالے د پښتنو علاقې ته راغلے وۀ، هغه ځینو هېوادونو د خپل شومو هدافو لپاره د پښتنو د قومي وجود د ختمولو په غرض د استعمالولو کوشش کړے وۀ او اوس ئې هم کوي. افغانانو ته ضروري دي چې په دې نازکو حالاتو کښې د یویشتمې پېړۍ په غوښتنو ځان پوه کړي او هیچا ته دا حق ورنۀ کړي چې د دوی د وجود نه فائدې

واخلي. د لوئے افغانستان په تېر تاریخ کښې داسې سترې سولییزې نړیوالې څېرې شته چې ټول ژوند



ئې د سولې راوستو لپاره وقف کړے وۀ، دغو سترو شخصیتونو ټول افغان اولس سولې ته رابللے او افغان اولس ئې هم ښۀ په میړانه ملاتړ کړے او ځانونه ئې نړۍ ته سوله پال ورپېژندلي دي. د دې لپاره چې د اوسني غلط تصویر د ړنګولو په خاطر هم داسې نمونې نړیوالو ته وړاندې کړې شي. پکار ده چې د لوئے افغانستان د سوله پال اولس سوله راوستونکي مشران نړۍ ته ورو پېژندل شي، چې د هغې د جملې څخه یو مشر فخر افغان خان عبدالغفار خان (باچا خان) دے. باچا خان د تېرې سلیزې په لومړیو کښې د ټول انسانیت لپاره د عدم تشدد د شعار لاندې د خدائي خدمتګارانو په نوم تحریک جوړ کړے وۀ او د دې تنظیم ګډون کوونکي د عدم تشدد پالونکي وۀ او هرې ستونزې ته ئې د جنګ په ځائے د سولې له لارې حل پېدا کاوۀ او د انسانیت خدمت ئې په دې موخه د ځان او سر ښندنې له لارې تر سره کوۀ او نړیوالو ته ئې ښودله چې افغان اولس سوله پال او سوله خوښونکے اولس دے. باچا خان د هم دې مبارزې په



اوږدو کښې د خپل عمر پوره 36 کاله د بېلا بېلو ځورونو تر څنګ په بند کښې تېر کړل، خو د خپل افغان اولس د خدائي خدمتګارانو په مرسته او ډاډ ګیرنه له خپل هوډ څخه وانۀ وښت او تر مرګه ئې د افغان اولس سوله پالنې ته دوام ورکړو. نو د هم دې دليلونو په بنياد لازمه ده چې په يويشتمه پېړي کښې پښتانۀ د باچا خان د ژوند فکر او جدوجهد تاريخ د نوي سر نه وپېژني ځکه چې د باچا خان فکري تحريک په سيمه کښې يوائينې تحريک دے چې د مذهبي فرقه پرستۍ نه پاک دے په امن، عدم تشدد او جمهوريت باندې ولاړ دے. دا په ټوله نړي کښې يو ځانګړے غورځنګ دے چې په لوړ انساني او افاقي ارزښتونو باندې ولاړ دے پښتانۀ کولے شي چې د هم دې تحريک او فلسفې په بنياد ځانونه د دې روان طوفان نه بچ کړي.

کۀ ملګري ملتونه دغو غوښتنو ته د هو ځواب ورکړي او 2010 کال د باچا خان په نامه ونومول شي نو په نړۍ کښې به د عدم تشدد فلسفه يو ځل بيا راژوندۍ شي. د افغانانو د صحيح شناخت هڅې به ژوندۍ شي او د سولې په لور به يو ستر ګام پورته شي. له دې سره به په ټوله نړۍ کښې د سولې راوستو يو نوے غورځنګ پېل شي. کۀ په رښتوني شکل سره هغه کسان چې ځانونو ته د عدم تشدد طرفداران وائي په عملي ډول سره د دې تفکر په عملې کولو کښې عملي ګامونه اوچت کړي نو کېدے شي چې زمونږ په جنګ ځپلې سيمه کښې سوله رامينځ ته شي او لراو بر پښتانۀ په سوله کښې د ارام ژوند اختيار کړي. په دې ډول به زمونږ په سيمه کښې د جنګ او جګړي مخه ونيول شي او هيڅوک به د پښتنو ټاټوبي ته په خيرنو سترګو ونۀ ګوري.

د باچا خان سياسي تفکر د دې سيمې د امن ، استحکام او سيمه ايزې همکارۍ دپاره ښۀ بنياد ګرځيدلے شي. پښتانۀ کولے شي چې د باچا خان د فلسفې په بنياد سره د اوسنيو چېلنجونو سره مخ شي او نړۍ ته وښيي چې پښتانۀ د يو متمدن قوم په حېثيت د خپل هېوادوالو د سوکالۍ لپاره د هر قسم قربانۍ لپاره حاضر دي. پښتانۀ بايد په يو نوم او بل نوم د ورور وژني څخه لاس واخلي دا ځکه چې *« باچا خان په دې ډېر زوربډۀ چې استعمار افغان د افغان په لاس وژني او کوربانۀ ئې د خپل کورورانولو ته راپا څولي دي »*

